پښتو

# د دوزخ سپي

پیشکش:
مجلس المدینة العلمیة (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

## د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ اِنْ شَآءَاللّٰه څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړي او په مونږه خپل رحمت رانازل کړي! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج ص۰ دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالب غم مدينه بقيع ومغفرت

د رسالے نوم: د دوزخ سپي

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچئ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته

کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړي کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# د دوزخ سپي

د شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د كتاب "غيبت كى تباه كاريان" نه اخذ شوي دا رِساله "دوزخ كے كتے" په اردو ژبه كښي ليكلي شوى ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دي رسالے په آسانه پښتو ژبه كښي د وَس مناسب دَ ترجَمه كولو كوشش كړے دے. كه چرې په دې ترجمه كښې څه غلطي يا كمے، زياتے اوموئ نو ستاسو په خدمت كښي عرض دے چه مجلس تراجِم ته خبر اوكړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشكش:

## مجلسِ تراجِمِ دعوتِ اِسلامي

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

د شيخ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي دَامَتۡ بَرَکَاتُھُمُ الۡعَالِیَہ د کتاب "د غيبت تباهياني" نه اخستے شوے مواد۔

# د دوزخ سپي

**دعائے عطّار:** يا الله پاكه! څوك چې دا رساله "د دوزخ سپي" اولولي يا ئې واوري هغه د جَهنَّم د عذاب نه په حفاظت كښې اوساتې.
اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

**فرمانِ مُصطفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! چا چې په ما سل ځله دُرُود اُووئيل، **الله** پاک د هغه د دواړو سترګو تر مينځه اوليكي چې دا د نِفاق او د جَهنَّم د اور نه آزاد دے او هغه به په ورځ د قيامت شهيدانو سره ساتي۔

(مُعۡجَم اَوۡسَط ج ۵ ص ۲۵۲ حديث ۷۲۳۵)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## څه چې ځان له خوښوي هغه دِ بل د پاره هُم وائي

حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: د خپل وررور په غير موجودګئ کښې د هغه ذِکر هُم هغسې کوه څنګه چې په خپله غير موجودګئ کښې ته خپل ذِکر کيدل خوښوے. (تَنبِيهُ المُغترين ص ۱۹۲)

## "فلانکي زما غِيبَت کړے دے"

## د دې نه چې خبر شئ نو مه غُصَّه کيږي

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُ الوهّاب شَعراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: خپل **غِيبَت** کوونکي ته غُصَّه کيدل مناسب نه دي، هغه سره خو مَحبَّت کول پکار دي ځکه چې د هغه له طرفه ستا **غِيبَت** کولو باندې خو تا ته ثواب حاصليږي! اګر چې هغه د دې خبرې [يعني تا ته د ثواب درکولو] اراده نه ده کړې. نور فرمائي: خوک چې هغه سړي ته غُصَّه اوکړي د چا نيکئ چې د هغه په لاس راځي هغه بے وقوفه دے البته په څه شرعي وجه غضبناک کيدل صحيح دي. (تَنبِيهُ المُغترين ص ۱۹۲)

## د غِيبَت کوونکي د پوهه کولو يو نوے انداز

سُبْحٰنَ الله! حضرتِ سَيِّدُنا عبدُ الوهّاب شَعراني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په څومره ښکلي انداز پوهه کول کړي دي، د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د اِرشادِ ګرامي نه مونږ ته دا درس هُم حاصليږي چې که د **غِيبَت** کوونکي خلاف جوابي کاروائي اوکړے شي نو په نفرت کښې به ئې نوره اضافه هُم اوشي او فساد به زيات

شي او که هغه په مینه باندې د پوهه کولو کوشش اوکړے شي نو اِنۡ شَآءَاللّٰه غِیبَت کول به هُم پریږدي. د عاشِقانِ رَسُول د مَدَني تَحریک دعوتِ اسلامي د مَکتَبَةُ الْمَدِینه رساله ”ناچاقیوں کا علاج“ صفحه 22 تا 23 کښې دي: دا اُصُول یاد ساتئ چې نَجاسَت په نَجاسَت نه بلکه په اوبو صفا کیږي لِهذا که څوک تاسو سره د نادانئ سُلُوک اوکړي نو بیا هُم تاسو هغه سره د مَحبَّت سُلُوک کوئ اِنۡ شَآءَاللّٰه چې کله د هغې بهترې نتیجې اُووِینئ نو ستاسو زړه به هُم خوشحاله شي. وَاللّٰهِ الْمُجِیب! هغه خلق ډیر خوش نصیبه دي څوک چې د بدې خبرې د جواب ورکولو په ځائے ظُلم کوونکے معاف کوي او د بدئ په جواب کښې ورسره ښیګړه کوي. بدي په ښیګړه باندې د لرې کولو د ترغیب په باره کښې په پاره 24 سُوۡرَةُ حٰمٓ السَّجدہ، آیت نمبر 34 کښې اِرشاد دے:

اِدۡفَعۡ بِالَّتِیۡ هِیَ اَحۡسَنُ فَاِذَا الَّذِیۡ بَیۡنَكَ وَ بَیۡنَهٗ عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِیٌّ حَمِیۡمٌ ﴿۳۴﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: اے اوریدونکیه! بدي په نیکئ لرې کړه، هله به هغه، چې ستا او د هغه په مینځ کښې دُښمني وه، داسې شي لکه پوخ دوست.

چشمِ کرم ہو ایسی کہ مٹ جائے ہر خطا
کوئی گناہ مجھ سے نہ شیطاں کرا سکے

(وَسائلِ بخشش (مُرَمَّم) ص ٤١٢)

## د اللّٰه جَبّار پټ تدبِير

حضرتِ سَيِّدُنا بَکر مُزَنِی رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: چې کله ته څوک اُووِينې چې هغه د خلقو د عَيبُونو وکيل جوړ شوے دے (يعني د خلقو رازونه ښکاره کوي او غِيبَتونه کوي) نو پوهه شه چې هغه د اللّٰه پاک دُښمن دے او د اللّٰهُ جَبَّار د پټ تدبَير ښکار شوے دے. (تَنبِيهُ المُغتَرين ص ١٩٧)

## مخامخ يو شان، وروستو بل شان

حضرتِ سَيِّدُنا بِشر حافِي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: په هغه خلقو تَعَجُّب دے [يعني حيرانتيا ده] څوک چې د اسلامي ورونړو په غير موجُودګۍ کښې د هغوئي د غِيبَتونو په ذريعه د هغوئي عِزَّت خرابوي خو چې کله مخامخ ورشي نو هغوئي سره ښه د مَحبَّت اِظهار کوي او صفتونه ئې شروع کړي. (تَنبِيهُ المُغترين ص ١٩٧)

## د نِفاق نه نفرت

چې کله حضرتِ سَيِّدُنا امام جَعفر صادِق رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه تَارِکُ الدُّنيا (يعني ګوشه نشين [دُنيا والؤ نه جُدا يواځې ځائے کښې عبادت کښې مصروف]) شولو نو حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه ئې په خدمت کښې حاضر شولو او عرض ئې اوکړو: د تَارِکُ الدُّنيا کيدلو په وجه مخلُوق ستاسو رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه د فُيُوض و برکاتو نه محرُومه شولو! هغوئي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه د دې په جواب کښې دا لاندې شعرونه اُووئيل ـــ

ذَهَبَ الْوَفَاءُ ذِهَابَ اَمْسِ الذَّاهِبِ وَالنَّاسُ بَيْنَ مُخَايِلٍ وَّ مَآرِبِ
يُفْشُوْنَ بَيْنَهُمُ الْمَوَدَّةَ وَالْوَفَا وَ قُلُوْبُهُمْ مَحْشُوَّةٌ بِعَقَارِبِ

يعني وفا د يو تلونکي پرون په شان لاړله او خلق په خپلو خيالاتو کښې ډوب پاتې شو. خلق دغسې خو يو بل سره د مَحبَّت او وفا اِظهار کوي خو د هغوئي زړونه د يو بل د بُغض او کِينے د لَړمانانو نه ډک دي! (تذکرةُالْاَوْلِیاء ص۲۲)

## نن صبا د نِفاق انداز

اے عاشقانِ اَولِياء! تاسو اوليده! حضرتِ سَيِّدُنا امام جَعفر صادِق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د خلقو د منافقت والا انداز نه تنګ شولو او خَلوَت (يعني تنهائي) ئې اختيار کړله. په هُغه پاکيزه دَور کښې هُم دا صورتِ حال جوړ شوے وو نو نن صبا خو چې کوم خراب حال دے د هغې کِيله د چا نه اوکړو. آه! نن صبا خو د اکثرو خلقو عجيبه حال دے چې کله يو بل سره ملاو شي نو د ډير زيات ادب اظهار کوي او د حال احوال ښه تپوسونه کوي، د يو بل هر قِسم خاطر داري او ښه ميلمستيا کوي، کله په يو بل بخي بوتلې څښې کله پرې چائے څښي، په ظاهره په خندا خوشحالئ ښے خبرې اترې کوي خو په زړونو کښې يو بل سره بُغض و کينه ساتي، څکه خو چې ملاويدو والا څنګه جُدا شي نو د يو بل غيبتونه شروع کړي، د يو بل عيبونه بيانوي او خنداګاني کوي چې فلانکے داسې فلانکے داسې دے، فلانکي کس ته اوګوره هر وخت ئې ځان داسې ساز کړے وي او فلانکي ته اوګوره د ګرځيدلو انداز ئې دومره عجيبه دے چې خندا به درشي او فلانکے کس خومره

بے حيا دے چې د هغه د خبرې کولو نه خو ما ته شرم راځي او فلانکے کس مغروره [کبرژن] ښکاري ځکه چې خلقو سره خبرې ډيرې کمې کوي او فلانکے بے وقوفه دے خلقو سره د خبرو کولو تميز نه لري او فلانکے عجيبه مسخره ده لکه د هيجړا! فلانکے ډير شرارتي دے، فلانکي زما پيسے خوړلي دي، او فلانکے خو پوخ 420 دے.

غيبت و چغلی کی آفت سے بچیں — یہ کرم یا مصطفٰے فرمایئے
ظاہر و باطن ہمارا ایک ہو — یہ کرم یا مصطفٰے فرمایئے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد
اَسْتَغْفِرُ الله تُوبُوا اِلَى الله!
صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په ګناه باندې د شرمنده کولو اَنجام

د عاشِقانِ رَسُول د مَدَني تَحريک **دعوتِ اسلامي** د **مَکتَبَةُ الْمَدِينه** (د 312 صفحو) کتاب، ”**بهارِ شريعت**“ حِصَّه 16 صفحه 173 کښې دي: رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِئي: چا چې خپل وررور ته په داسې ګُناه شرم [يعني پيغور] ورکړو د کومې [ګُناه] نه چې هغه توبه کړې ده، نو د مرګ کيدلو نه مخکښې به هغه پخپله په هغه ګُناه کښې اخته شي. (سُنَنِ تِرمِذِي، ج٤ ص٢٢٦ حديث ٢٥١٣)

## تائب ئې شرمند کړو نو پخپله په هغه ګناه کښې اخته شو

اے عاشقانِ رَسُول! معلومه شوه چې يو مسلمان د يوے ګُناه نه توبه اوکړې نو بيا د هغه ګناه په باره کښې هغه شرمِنده کول نه دي پکار، په دې باره کښې حضرتِ سَيِّدُنا عبدُ الوهّاب شَعراني رَحمَةُاللهِ عَلَيه نقل کوي چې حضرتِ سَيِّدُنا يَحيٰی بِن مُعاذ رازِي رَحمَةُاللهِ عَلَيه فرمائي: عقلمند ته پکار دي چې هغه چا ته د هغې ګُناه پيغور نهورکوي (د کومې نه چې هغه توبه کړې ده) ځکه چې ما يو ځل يو کس ته (د توبه کولو باوجود) د هغه د ګناه په سبب هغه ته پيغور اوکړو (يعني شرمِنده مې کړلو) نو شل کاله پس زه پخپله په هغې کښې اخته شوم. (تَنبِيهُ الْمُغترين ص۱۹۷)

## وَنه نالَـووم

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بے ځايه خبرو عادت په سړي هغه خبرې کوي چې هغه کول نه وي پکار او مصيبت کښې ئې اخته کوي، د دې په وجه د هغه د خُلې نه ډير غِيبَتونه او **چُغلئ** کيږي، انسان چې خاموشه اوسي نو په هُم دې کښې ئې خير وي او که څه وائي نو ښه خبره دِ کوي، ذِکرُ الله دِ کوي. اوګورئ! زمونږه خوږ خوږ اقا صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللهُ عَنهُ ته د ژبې ځومره ښکلے استعمال ښودلے دے، تاسو هُم واورئ او خوشحاله شئ چنانچه د "**سُنَنِ اِبنِ ماجَه**" رِوايت دے چې (يو ځل) خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرته تشريف ورلو حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللهُ عَنهُ ئې اوليدلو چې يو بُوټے نالوي. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترينه تپوس

اوکړلو: څه کوے؟ هغوئي عرض اوکړو: وَنه نالووم. خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: زه د بهترینې وَنې نالولو طریقه در اوښایم! سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اللّٰهُ اَکْبَر وئیلو سره د هرې کلِمے په بدله کښې په جَنَّت کښې یوه وَنه لګولے کیږي. (سُنَنِ اِبنِ مَاجَه ج ٤ ص ٢٥٢ حديث ٣٨٠٧)

## په جَنَّت کښې به څلور ونے اولګیږي

اے عاشقانِ رَسُول! په دې حدیثِ پاک کښې څلور کلِمے ښودلے شوي دي: ﴿١﴾ سُبْحٰنَ الله ﴿٢﴾ اَلْحَمْدُ لِلّٰه ﴿٣﴾ لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله ﴿٤﴾ اَللّٰهُ اَکْبَر دا څلور واړه کلِمات چې اُووائي نو په جَنَّت کښې به څلور وَنے اولګولے شي او که کم اولولئ نو کمې. مَثَلًا که سُبْحٰنَ الله اُووائي نو یوه ونه. د دې کلِماتو د پاره مسلسل ژبه خوزوئ اَو په جَنَّت کښې ډیرې ډیرې ونے اولګوئ.

عُمر راضائع مَکُن در گفتگو ذِکر اُو کُن ذکرِ اُو کُن ذکرِ اُو

(یعني فالتو خبرو کښې عُمر مه ضائع کوئ، ذِکرُ الله کوئ، ذِکرُ الله کوئ ذِکرُ الله کوئ)

## د 80 کالو ګناهونه معاف

هُم دغسې د ژبې یو ښه استعمال دا هُم دے چې دُرُود و سلام وائي نو دغسې به دا د ګناهونو د بخښلو ذریعه هُم جوړیږي ځنګه چې په دُرِّمُختار کښې دي: څوک چې په سرکارِ نامدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې یو ځل دُرُود

اوليږي او هغه قبول شي نو **الله** پاک به د هغه د اتيا (80) کالو ګناهونه وران [يعني معاف] کړي. (دُرِّ مُختار ج۲ ص۲۸٤)

## بِسْمِ الله اوکړه وئيل منع دي

ي خلق د ژبې غلط اِستعمال کوي او داسې وائي: "بِسْمِ الله اوکړه!" "راشه جي بِسْمِ الله!" "ما بِسْمِ الله اوکړه." سوداګر چې اوله سودا په ورځ کښې خرڅوي هغې ته عموماً "بَونې" وائي خو بعضې خلق دغې ته هم "بِسْمِ الله" وائي مَثَلًا "زما خو نن تر اوسه بِسْمِ الله نه ده شوې!" د کومو جُملو مثالونه چې وړاندې کړے شو دا ټول غَلَط دي. دغه رنګ که د ډوډۍ خوړلو په وخت کښې څوک راشي نو اکثر ډوډۍ ته ناست کس هغه ته وائي راځه ډوډۍ اوخوره، نو عام طور داسې جواب ورکوي، "بِسْمِ الله" يا داسې وائي: "بِسْمِ الله اوکړئ." **بهارِشريعت** جلد 3 حصه 16صفحه 379 کښې دي چې "په دې موقع داسې بِسْمِ الله وئيل علماؤ سخت **منع** کړي دي." خو داسې وئيلے شي چې بِسْمِ الله اووائي او خورئ. بلکه په داسې موقع دُعائيه جُمله وئيل بهتر دي مثلاً بَارَکَ اللهُ لَنَا وَلَکُمْ يعني الله تعالیٰ دِ مونږه او تاسو ته بَرَکت راکړي. يا دِ په خپله مورنۍ ژبه کښې وائي چې، **الله** تعالیٰ دِ تاسو ته بَرَکت درکړي.

## بِسْمِ الله وئيل کله کفر دے

د **حرام** او ناجائزه کار نه مخکښې بِسْمِ الله بالکل، بالکل او بالکل مه وائي. "**فتاوٰی عالمګيری**" کښې دي: د شراب څښلو په وخت او د زِنا کولو په

وخت کښې يا جُواري کولو وخت کښې بِسۡمِ اللہ وئيل کفر دے. (فتاوٰی عالمگیری ج۲ص۲۷۳)

## ذِکرُ الله کول کله ګناه ده

**ياد ساتئ!** په ژبه باندې ذِکر و دُرُود د اجر و ثواب باعِث هُم دي او بعضو صورتونو کښې ممنُوع هُم دي مَثَلًا د مَکتَبَةُ الْمَدِينه کتاب "**بهارِ شريعت**" جِلد اَوَّل صفحه 533 کښې دي: ګاهک ته سودا ښودلو وخت کښې د هغه څيز ښه والے اخستونکي ته ښکاره کولو د پاره د سوداګر **درود شريف** يا سُبۡحٰنَ الله وئيل ناجائزه دي- هُم دغسې د يو مشر کس په ليدلو په دې نِيَّت **دُرُود شريف** لوستل چې خلقو ته د هغه د راتلو خبر اوشي او ځکه چې خلق د هغه د تعظيم د پاره پاڅي او ځائے پريږدي ناجائزه دي- (رَدُّالْمُحْتَار ج ۲ ص ۲۸۱)

## استقبال د پاره د الله نعرے لګول

**اے عاشقانِ رَسُول!** د مذکوره جُزئيے پيشِ نظر زه (سَګِ مدينه عُفِيَ عَنۡهُ) اکثر اسلامي وروڼړه پوهه کووم چې زما په راتللو د "**اللّٰه اللّٰه**" نعرے مه وهئ ځکه چې بظاهر دلته ذِکرُالله نه بلکه اِستِقبال مقصود وي.

جو ہے غافل ترے ذکر سے ذوالجلال اُس کی غفلت ہے اُس پر وبال و نکال
قعرِ غفلت سے ہم کو خدایا نکال ہم ہوں ذاکر ترے اور مذکُور تو

**اَللّٰه اَللّٰه اَللّٰه اَللّٰه**

(سامانِ بخشش ص ۱۵)

ځوک چې غافِل دے ستا له ذِکره ذوالجلال | د هغه غفلت دے په هغه عذاب و وَبال
مونږ کړه ذاکِر ستا، ستا ذِکر چې اوکړو ډیر | اوباسي مونږ د غفلَت د کندي یا ذوالجلال

اَللّٰهُ اَللّٰهُ اَللّٰهُ اَللّٰهُ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## خپلې نیکۍ تاسو ته ولے درکړم؟

یو کس حضرتِ سَیِّدُنا حَسَن بصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته اُووئیل: زه خبر شوے یم چې تاسو زما غِیبَت کوئ! هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اُوفرمائیل: زما په نزد ستا اَهَمِّیَّت دومره زیات هُم نه دے چې زه خپلې نیکۍ تا ته حواله کړم.

(اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج ۳ ص ۱۸۳)

## غِیبَت لکه چې د نیکو لرې غوزارولو مشین دے

حضرتِ سَیِّدُنا فُضَیل بِن عِیاض رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: د **غِیبَت** کولو والا مثال د هغه کس په شان دے ځوک چې د مِنجنِیق (یعني د کڼو ویشتلو په لاس باندي چلیدو والا د پخوانۍ زمانے مشین) په ذریعه خپلې نیکۍ مشرِق او مغرِب هر طرف ته غوزاروي. (تَنبِیهُ الْمُغتَرین ص ۱۹۳)

## کله مې هُم غِیبَت نه دے کړے

د حضرتِ سَیِّدُنا اِمام بُخاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اِرشاد دے چې حضرتِ سَیِّدُنا شیخ اَبُو عاصِم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: زه چې د کله نه په دې خبره پوهه شوے یم چې **غِیبَت** کول حرام دي، بیا ما کله هُم **غِیبَت** نه دے کړے.

(تهذِیبُ الاسماء وَاللُّغات لِلنَّوَوِي ج ۲ ص ۵۲۹)

## خوک چې زياتې خبرې کوي هغه زياتې غلطۍ کوي

حُجَّةُ الْاِسلام حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه "مِنهاجُ العابِدِين" کښې فرمائي: د ژبې د حفاظت په وجه د نيکو اعمالو حفاظت کيږي ځکه چې کوم کس د ژبې خيال نه ساتي، هر وخت خبرې کوي، هغه عموماً د خلقو په غيبت کښې اخته کيږي. (منهاجُ العَابِدِين ص٦٥) مشهوره مُحاوره ده: مَنْ كَثُرَ لَغَطُهُ كَثُرَ سَقَطُهُ يعني خوک چې زياتې خبرې کوي هغه زياتې غلطۍ کوي.

## ديوانه جوړ شئ

اے عاشقانِ رَسُول! که څه وئيل غواړئ او ضرور وئيل غواړئ نو تِلاوَت کوئ، نعت شريف لوَلئ، ډير ډير ذِکرِ اِلٰهی کوئ. دوه فرامين مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ﴿1﴾ داسې کثرت سره ذِكرُ الله کوئ چې خلق درته ديوانه وئيل شروع کړي. (اَلْمُسْتَدْرَک لِلْحَاکِم ج ٢ ص ١٧٣ حديث ١٨٨٢) ﴿٢﴾ د الله پاک ذِکر دومره کثرت سره کوئ چې مُنافقان درته رِياکار وئيل شروع کړي.

(اَلْمُعْجَمُ الْكَبِير للطبرانی ج ١٢ ص ١٣١ حديث ١٢٧٨٦)

## د جَنَّتي محلونو حاصلولو نُسخه

د ژبې د بهتر اِستعمال د پاره يو ايمان تازه کوونکے روايت واورئ او خوشحاله شئ چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا سعيد بِن مُسَيَّب رَضِیَ اللهُ عَنْه نه رِوايت دے چې زمونږ د شفيع او مهربانه آقا مکی مَدَنی مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان عاليشان دے: چا چې قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ (پوره سُورت) لس ځله اولوستلو

**الله** پاک د هغه د پاره په جَنَّت کښې محل جوړوي، چا چې شل ځله اولوستو د هغه د پاره دوه محلونه جوړوي، چا چې ديرش ځله اولوستو د هغه د پاره درې محلونه جوړوي. حضرتِ سَيِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عرض اوکړو: يارَسُولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغه وخت به زمونږ ډير محلونه وي؟ اِرشاد ئې اُوفرمائيلو: د **الله** پاک فضل د دې نه هُم زيات فراخه دے. (سُنَنِ دارمی ج۲ ص۵۵۲ حديث ۳٤۲۹)

اللہ کی رحمت سے تو جنت ہی ملے گی
اے کاش! محلّے میں جگہ اُن کے ملی ہو

(وَسائلِ بخشِش(مُرَمَّم) ص ۳۱۵)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد
تُوبُوا اِلَى الله! اَسْتَغْفِرُ الله
صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د غِيبَت بد بُوئي

**غِيبَت** کولو سره يوه مخصوصه بدبُوئي پيدا کيږي، پخوا به چې چا **غِيبَت** کولو نو د بدبوئي په وجه به ټولو ته معلومه شوه چې **غِيبَت** کيږي! خو اوس **غِيبَت** دومره ډير شوے دے چې هر طرف ته د دې بدبوئي خوره ده خو مونږ د دې په بدبُوئي نه پوهيږو، ځکه چې زمونږ پوزه د دې د بدبُوئي سره عادت شوې ده. په دې ځان د دې مثال نه پوهه کړئ چې کله کټر صفا کيږي نو عام کس د هغې د بدبُوئي په وجه هلته نه شي اودريدلے خو د

چُوړي [بهنګي] پرواه هُم نه وي ځکه چې د هغه پوزه د دې ګندګۍ د بدبُوئي سره عادت شوي وي. چنانچه فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه مُخَرَّجه جِلد اَوَّل صفحه 720 کښې دي: **دروغ** او **غِيبَت** مَعنَوِي نَجاسَت (يعني باطِني ګندګۍ) دي، و لِـهذا د دروغژن د خُلې نه داسې بَدبُوئي اُوځي چې د حفاظت فرښتے ترينه هغه وخت لرې جُدا شي ځنګه چې په حديث کښې راغلي دي او د هُم دغسې يوې بدبوئي مُتَعَلِّق رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبر ورکړو چې دا د هغوئي د خُلې بدبُوئي ده کوم [خلق] چې د مسلمانانو **غِيبَت** کوي. [اعلىٰ حضرت نور فرمائي] او مونږ ته چې د دروغو يا **غِيبَت** بدبُوئي نه **محسوسيږي** د هغې وجه دا ده چې مونږه د دې [غيبت او دروغو] سره عادت شوي يُو، زمونږ پوزې د هغې [د بدبُوئي] نه ډکې دي لکه ځنګه چې د خرمنې پخولو والؤ په **محَلّه** کښې اوسيدونکو ته د هغې د بدبُوئي نه تکليف نه **محسوسيږي** خو که بل څوک راشي نو هغه ساه نه شي اخستلے. مسلمانان دِ دا نفيسه فائده (يعني بهترينه نتيجه) ياده ساتي او د خپل **رب** نه دِ اُويَريږي، دروغ او **غِيبَت** دِ پريږدي. آيا څوک به د خپلې خُلې نه غټ بَول راوتل خوښ کړي؟ که د باطِن پوزه مو آزاده شي نو در معلومه به شي چې په دروغو او **غِيبَت** کښې د غټو بَولو نه هُم بدتره بدبُوئي وي. رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ”چې کله بنده دروغ وائي نو د هغې د بدبُوئي نه فرښته يو مِيل لرې [جُدا] شي.“ (سُنَنِ تِرمِذی، ج ۳ ص ۳۹۲ حديث ۱۹۷۹) د حضرتِ سَيِّدُنا جابِر بِن عبدُالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې مونږه د حُضُور اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضر وو چې يوه بدبُوئي اوچته شوه، رَسُولُ الله صَلَّى الله

عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: تاسو ته معلومه ده چې دا بدبُوئي د څه ده، دا د هغوئي بدبُوئي ده څوک چې د مسلمانانو **غِيبَت** کوي. (ذَمُّ الغِيبَةِ لِابنِ اَبِی الدُّنیا ص۱۰٤ رقم ۷۰)

اللہ ہمیں جھوٹ سے غیبت سے بچانا — مولٰی ہمیں قیدی نہ جہنم کا بنانا
اے پیارے خدا از پئے سلطانِ زمانہ — جنت کے محلات میں تو ہم کو بسانا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد
اَسْتَغْفِرُ الله تُوبُوا اِلَى الله!
صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د هر وينبته په بدل کښې يو يو نُور

اے عاشقانِ رَسُول! مونږ ته د ژبې صحيح اِستعمال زده کول پکار دي. ګڼې قَسَم په خُدائے چې د غِيبَتونو او تُهمتونو او مختلفو ګناهونو مصيبت مو د آخرت د خرابئ سبب جوړيدے شي. واقعي که مونږه د ژبې صحيح استعمال کوو نو ساعت په ساعت ډيرې نيکئ حاصلولے شو. سرکارِ عالي وقار، مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے چې په بازار کښې د الله پاک د ذِکر کوونکي د پاره به د هر وينبته په بدل کښې د قيامت په ورځ نُور وي. (شُعَبُ الْاِيمان ج۱ ص۴۱۲ حديث ۵۶۷)

## درس ورکوونکو د پاره دُعائے عَطّار

ياد ساتئ! د قرآنِ پاک تِلاوت، حَمْد و ثناء، مُناجات و دُعـا، دُرُود و سلام، نعت، خُطبه، درس، د سُنَّتو ډک بيان وغيره ټول ''ذِكرُالله'' کښې شامِل دي. اسلامي ورونړو ته پکار دي چې هره ورځ کم از کم دولس مِنټه بازار کښې د فيضانِ سُنَّت درس ورکوي. څومره ساعت چې درس ورکوي اِنْ شَآءَاللّٰه هغه همره وخته پورې به د نورو فضائلو نه علاوه بازار کښې د ذِكرُالله کولو ثواب هُم ګټي. د فيضانِ سُنَّت د درس هُم څه ښکلې مَدَني سپرلي دي، کاش چې! اِسلامي ورونړه جُمات، کور، بازار، چوک، دُکان وغيره کښې او اسلامي خويندې په کور کښې هره ورځ د دوه درسونو ورکولو يا اوريدلو معمُول جوړ کړي او ډير ډير ثوابونه اوګټي او ورسره ورسره د دې دُعـائے عَطّار حقدار هُم جوړ شي. **يا ربِّ مُصطَفٰی!** کوم اِسلامي ورونړه او اسلامي خويندې چې هره ورځ دوه درسونه ورکړي يا ئې واوري هغوئي او ما بے حسابه اُوبخښې او مونږه ته د مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ګاونډ کښې يو ځائے د اوسيدلو سعادت راکړې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د يواځې درس ورکولو بَرَکت

د **فيضانِ سُنَّت** د درس د مَدَني سپرلو به څه وائي! د لائنز ايريا (کراچئ) يو اِسلامي ورور د کور په چهت ولاړ وو چې د هغه نظر په کوڅه کښې ولاړ د دعوتِ اسلامي يو باعِمامه اسلامي وررو باندې پريوتلو چې هغه يواځې ولاړ وو او چوک درس ئې ورکولو، خو يو کس هُم د درس اوريدلو د

پاره نه اودريدلو، هغه هسې خو د دِين نه عملي طور دومره لرې وو چې د شنے عِمامے والا اِسلامي ورور به ئې اوليدلو نو لرې به تښتيدلو، خو هغه ئې چې په يواځې درس کولو اوليدلو نو معلومه نه ده چې ولے ئې پرې زړه اوسوزيدلو [يعني ترس راغے] او سوچ ئې اوکړو چې دې غريب ته هيڅ څوک هُم نه اودريږي، زه ورځم او ورته اودريږم، د کوره ور اوتلو او چوک درس کښې شريک شو، سُبۡحٰنَ اللّٰه! د هغه په چوک درس کښې شرکت کول د هغه د پاره د هِدايت سبب جوړ شو او هغه مَدَني ماحول کښې شامل شو. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه هغه ته د خپل ځائے د نيکو اعمالو ذِمَّه داري هُم ورکړے شوه. يو وخت خو هغه وو چې د شنے عِمامے والا به ئې اوليدل نو ترينه تښتيدلو به، او اوس اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه ښځپله د هغه په سر باندې د شنے عِمامے تاج ځليږي.

## د مقبولِيَت مدار په کثرت او قِلَّت نه دے

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوليدل! د فيضانِ سُنَّت د درس څومره زبردست بَرَکت دے! هغه اِسلامي ورور څومره جذبه لرله چې هيڅ څوک هُم ورته نه وو ولاړ او يواځې ئې چوک درس شروع کړو! په دې کښې د ټولو د پاره د درس مَدَني ګُلونه دي چې د هغه يواځې درس ورکول د يو مسلمان مَدَني ماحول کښې د شامليدلو سبب جوړ شو، د دې نه هُم اندازه اولګوئ چې يو کس ئې په يواځې درس کولو اوليدلو نو د داسې کس زړه پرې اُوسوزيدلو چې هغه به د دې څيزونو نه لرې تښتيدلو نو اللّٰه پاک به يواځې درس ورکوونکو يا لږو خلقو ته درس ورکوونکو سره

خومره مَحبَّت کوي او په هغوئ به خومره رَحم و کرم کوي. ياد ساتئ! د مقبولِيَت [يعني قبليدلو] دار و مدار په لړو او ډيرو [خلقو] نه دے. کوم اِسلامي ورونړه چې د ډيرې ګنړې او اِيکو ساؤنډ نه بغير بيان کولو يا نعت شريف لوستلو ته تيار نه وي د هغوئ د ترغيب د پاره عرض دے چې د **اللہ** پاک په بارګاه کښې صرف اخلاص کتلے کيږي. که خلق ډير وي خو اخلاص نه وي نو هيڅ فائده به نه کيږي. يقيناً چې خومره انبيائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام تير شوي دي ټول د **اللہ** پاک مقبول ترين بندګان دي او هر يو سل فيصده خپله ذِمَّه داري پوره کړي وه خو په بعضو انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام باندې صرف يو کس ايمان راوړے وو چنانچه

## صرف يو کس ئې تصديق کړے وو

رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: زه د جَنَّت په باره کښې د ټولو نه مخکښې شَفاعَت کوونکے يم، او د يو نبي دومره تصديق نه دے شوے خومره چې زما شوے دے، بعضې انبيائے کرام (عَلَيْهِمُ السَّلَام) هغه دي چې د هغوئ تصديق د هغوئ په اُمَّت کښې صرف يو کس کړے دے. (صحيح مُسلِم ص ۱۲۸ حديث ۳۳۲)

## 950 کاله کښې صرف 80 کسانو ايمان راوړے وو

مُفَسِّرِ قرآن، حضرت مُفتي اَحمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې ليکي: د دې فرمانِ عاليشان يوه معنیٰ دا ده چې خومره زياتو خلقو په

ا ایمان راوړے دے دومره خلقو په بل نبي باندې ایمان نه دے راوړے، دا بالکل ظاهره ده ځکه چې نور نبیان عَلَیۡهِمُ السَّلَام به د یو خاص قوم نبیان وو حضورِ انور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول جهان نبي دے او د نورو نبیانو د نُبُوَّت زمانه مَحدُود [یعني یو حده پورې] وه، د حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُبُوَّت تر قیامته پورې دے. نور لیکي: حضرتِ سَیِّدُنا نُوح عَلَیۡهِ السَّلَام نهه نیم سوه (950) کاله تبلیغ کړے وو خو صرف اتیاؤ (80) کسانو ایمان راوړے وو، اته (8) کسان د خپل کور او دوه اَویا (72) کسان نور، حُضُور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درویشت (23) کاله تبلیغ کړے وو، اوګورئ تر اوسه پورې څه حال دے!
(مِراٰۃ ج ۸ ص ۷۰۶)

## غِیبَت ګناهِ کبیره ده

حضرتِ سَیِّدُنا اِمام اَحمد اِبنِ حَجَر مَکِّی شافِعِي رَحۡمَۃُ اللّٰهِ عَلَیۡه فرمائي: په صحیح حدیثونو کښې دي چې (۱) غِیبَت د سُود نه زیات دے [یعني غټه ګناه ده] (۲) که دا (یعني غیبت) د سمندر په اوبو کښې واچولے شي نو هغه به هُم بد بُوداره کړي (۳) (غِیبَت کوونکو) په دوزخ کښې مُردار خوړلو (٤) د دوئي (یعني غِیبَت کوونکو) فَضا بدبُوداره وه (٥) دوئي (یعني غِیبَت کوونکو ته) قبرونو کښې عذاب ورکولے شو. په دې کښې صرف بعضې حدیثونه د دې د کبیره کیدلو د پاره کافي دي، پس چې کله دا ټول جمع شي نو **غِیبَت** به ولے کبیره ګناه نه وي؟ (اَلزَّوَاجِرُ عَنِ اقۡتِرافِ الۡکَبائِر ج ۲ ص ۲۸)

## د عالِم په باره کښې د احتياط حکايت

حضرت شيخ افضلُ الدِّين رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نه به چې کله د يو عالِمِ دين د مرتبې په باره کښې تپوس اوکړے شو نو (په غِيبَت کښې د اخته کيدلو د ويرې) به ئې فرمائيل: زما نه علاوه د بل چا نه تپوس اوکړه، زه خو خلقو ته د کمال او بهترئ په نظر ګورم (يعني د هر يو په باره کښې د حُسنِ ظَن [يعني نيک ګُمان] نه کار اخلم) زه کشف نه لرم چې د هغې په ذريعه د هغوئې هُغه مُقامات معلوم کړے شم کوم چې د رَبِّ کائنات په نِزد دی. او په حديث شريف کښې دي: اَلظَّنُّ اَکْذَبُ الْحَدِیْث-[1] ترجمه: بد ګُماني د ټولو نه [زياته] دروغ خبره ده- (تَنبِيهُ الْمُغترين ص ۱۹۳)

## ښه ګمان عبادت دے

اے عاشقانِ رَسُول! نن صبا د بدګُمانئ مرض عام دے. د مسلمان په باره کښې ښه ګُمان کول پکار دي چې دا هُم ثواب دے. چنانچه **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: حُسْنُ الظَّنِّ مِنْ حُسْنِ الْعِبَادَةِ يعني حُسنِ ظَن [يعني ښه ګُمان] د ښه عبادت نه دے. (سُنَنِ اَبو داوٗد ج ٤ ص ٣٨٨ حديث ٤٩٩٣) مُفَسِّرِ قرآن، حضرت مُفتي اَحمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک مختلف مطلبونه بيان کړي دي، هغوئې ليکي: يعني د مسلمانانو په باره کښې ښه ګُمان کول،

---

[1] (صَحِيحُ الْبُخاری ج ۴ ص ۱۱۷ حديث ٦٠٦٦)

د هغوئي په باره کښې بدګماني نه کول، دا هُم د ښو عبادتونو نه يو عبادت دے. (مِراٰةُ المناجيج ج٦ ص٦٢١)

## د عالِم غِيبَت کوونکے د رَحمت نه مايُوسه

افسوس! نن صبا مَعَاذَالله د عُلَماء ډير زيات **غِيبَت** کيږي، لِهذا که شيطان مو د يو عالِم **غِيبَت** ته را اُوپارَوِي نو د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو حَفص کبِير رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه دا اِرشاد راياد کړئ او ځان اُويَرَوَئ: چا چې د يو فَـقِـيه (يعني عالِم) **غِيبَت** اوکړو نو د قيامت په ورځ به د هغه په مخ ليکلي وي: **"دا د الله پاک د رَحمت نه مايُوسه دے."** (مُکاشَفَةُالْقُلُوب ص٧١)

## د دوزخ سپي به دِ چيچي

**غِيبَت** که د عُلَماء وي او که د عوام، غِيبَت خو غِيبَت دے، قَسَم په خُدائے! د دې عذاب به څوک برداشت نه کړے شي چنانچه يو ځل د مدينے تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرتِ سَيِّدُنا **مُعَاذ** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته اُوفرمائيل: د خلقو **غِيبَت** مه کوه ګني د دوزخ سپي به تا **چيچي**. (تَفسِيرِ دُرِّمَنْثُور ج٧ ص٥٧٢ منهاجُ الْعَابِدِين ص٦٦)

## که د شپې دربانديِ سپے حمله اوکړي؟

اے **عاشقانِ رَسُول!** دا ذکر کړے شوے روايت بيا بيا اولَولئ او تَصَوُّر اوکړئ چې د شپې خاموشي [او يواځي ځائے] وي او شا ته دريسي سپے په غپلو غپلو راروان وي او تاسو ترينه د بچ کيدلو کوشش کوئ چې ناځاپه

درباندې حمله اوکړي او لـمن ته خُله در واچوي! هغه وخت به ستاسو څه حالت وي! اوس غور اوکړئ چې که د يو مسلمان غِيبَت مو اوکړو او مرګ نه پس درنه په سزا کښې د جَهنَّم سپي لـمن نه بلکه بدن اونيولو او صرف نيول نه بلکه چيچل ئې شروع کړو نو هغه وخت به درباندې څه تيريږي!

کرلے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی قبر میں ورنہ سزا ہو گی کڑی

اوکړه توبه لوئې دے د الله رَحمت کښې قبر کښې به پيښ شي درته ډير زَحمت

(وَسائلِ بخشِش(مُرَمَّم) ص ۷۱۲)

## د عُلَماء د غِيبَت 15 مثالونه

حالات دومره خراب دي چې د بيانولو نه بهر دي، شيطان اکثر مسلمانان د علمائے حق نه ډير لرې کړي دي، افسوس! ډير زيات افسوس دے! اوس خلق د عُلَمائے کرامو ډير زيات غِيبَت کوي. د عُلَماء د غِيبَت يو څو مثالونه واورئ: ❖ د وعظ [يعني بيان] پيسے اخلي ❖ ډيره بده وَينا کوي ❖ خيټور دے ❖ حلواګاني او پراټے خوري ❖ ډوډئ ډيره زياته خوري ❖ تيره ورځ ئې په ګټ لاس اوبه څښلې ❖ ځان د ټولو نه غټ عالِم ګڼړي ❖ په پوزه کښې خبرې کوي ❖ ډير اُوګږد بيان کوي ❖ بيان کښې صرف قصّے کوي ❖ آواز ئې هُم څه "خاص" نه دے ❖ وروره ځان ترينه ساته "عَلّامه صاحب" دے ❖ لالچي دے ❖ پريږدئ پريږدئ ياره! هغه خو

مُولا دے ❖ (او مَعَاذَاللہ بعضې خلق عالِمانو ته د سپک نظره وائي) [لکه په اُردُو کښې] یہ مُلّا لوگ.

صَــلُّوْا عَــلَی الْـحَــبِـیْـب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عالِم تَوهِين كله كفر دے او كله نه

د عام سړي او د عالِـم دِين په **غِيبَت** كښې ډېر فرق دے، د عالِم په **غِيبَت** كښې اكثر د هغه تَوهِين [يعني بے اَدَبي] هُم شامله وي او دا ډيره د تشويش خبره ده. **د عالِم د تَوهِين درې صورتونه** او د دې په باره كښې اعلٰى حضرت امامِ اَهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په **فَتَاوٰی رَضَوِيّه** جِلد 21 صفحه 129 كښې شرعي حُكم بيانوي: ﴿۱﴾ كه عالِـم (دِين) ته ځكه بد وائي چې هغه عالِم دے، بيا خو صَرِيح [يعني ښكاره] كافِر دے او ﴿۲﴾ كه د عِلم په وجه د هغه تعظيم فرض ګڼړي خو د خپلې دُنيَوي دُښمنۍ په وجه ورته بد وائي، كنزلې (ورته كوي) تَحقِير [يعني سپكاوالے] ئې كوي نو سخت فاسِق فاجِر دے او ﴿۳﴾ كه بے سببه (بے وجهې) ورسره بُغض لري نو مَرِيضُ الْقَلْبِ و خَبِيْثُ الْبَاطِن (يعني د زړه مريض او ناپاكه باطِن والا) دے او د هغه (يعني عالِم سره د هسې بُغض لرونكي) د كفر انديښنه [يعني ويره] ده. په "خُلاصه" كښې دي: مَنْ اَبْغَضَ عَالِمًا مِّنْ غَيْرِ سَبَبٍ ظَاهِرٍ خِيفَ عَلَيْهِ الْكُفْر يعني، څوك چې بے د يوې ظاهري وجهې عالِـم دِين سره بُغض لري، د هغه د كفر ويره ده.

(خُلاصَةُ الْفَتَاوٰی ج۴ص۳۸۸)

# د عُلَماء د تَوهين په باره کښې يو شو سوال و جواب وړاندې کيږي:

## د عالِم بے عَمَل تَوهِين

**سُوال**: آيا د بے عَمَله عالِم تَوهِين کول هُم کفر دے؟

**جواب**: د عِلمِ دِين په سبب [يعني د عِلمِ دِين نه د نفرت کولو په وجه] د بے عَمَله عالِم تَوهِين [يعني بے اَدَبِي] کول هُم کفر دے. بے عَمَله عالِم هُم د عِلمِ دِين په وجه د جاهِل عبادت گُزار نه په څو څو درجو افضل او بهتر دے. اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: او قرآنِ مجيد هغوئي ته مُطلقاً **وارِث** وئيلے دے، تر دې چې د هغوئي بے عَمَله هُم، هله چې هغه په عقائدِ حق باندې مُستقِيم (يعني صحيحُ الۡعَقِيدہ سُنِّي) او د هدايت طرف ته داعِي (يعني رابلونکے) وي ځکه چې گُمراه (عالِم) او گُمراهي طرف ته رابللو والا (مُولا) د نبي (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) وارِث نه دے بلکه د اِبلِيس نائب دے. وَالۡعِيَاذُ بِاللّٰهِ تَعَالٰی... آو، **رب** تعالیٰ ټولو عُلَمائے شريعت ته کوم ځائے کښې وارِثان وئيلي دي؟ تر دې چې د هغوئي بے عَمله ته هُم! آو، هغه زمونږ نه تپوس اوکړئ، **الله** پاک فرمائي:

ثُمَّ اَوۡرَثۡنَا الۡكِتٰبَ الَّذِيۡنَ اصۡطَفَيۡنَا مِنۡ عِبَادِنَا ۚ فَمِنۡهُمۡ ظَالِمٌ لِّنَفۡسِهٖ ۚ وَ مِنۡهُمۡ مُّقۡتَصِدٌ ۚ وَ مِنۡهُمۡ سَابِقٌۢ بِالۡخَيۡرٰتِ بِاِذۡنِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الۡفَضۡلُ الۡكَبِيۡرُ ﴿۳۲﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالایمان: بیا مونږه د کتاب وارثان کړل خپل ټاکلي بندګان، نو په هغوئي کښې څوک په خپل ځان باندې ظُلم کوي او په هغوئي کښې څوک په مینځنۍ چال دے او په هغوئي کښې څوک هغه دے چې د الله په حُکم په ښیګړو کښې مخکښې شو، هُم دا غټ فضل دے.

دا پاس ذِکر شوي آیتونه په فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه جِلد 21 صفحه 530 کښې نقل کولو نه پس اعلیٰ حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: **اوګورئ بے عَمَله (عُلَماء) چې د ګناهونو په ذریعه په خپلو ځانونو ظُلم کوي هغوئي ته ئې هُم د کتاب وارِثان وئیلي دي او صرف وارِثان نه بلکه په خپلو ټاکلو بندګانو کښې ئې شمیرلي دي.** په حدیثونو کښې راغلي دي، رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې آیت په تفسیر کښې فرمائیلي دي: په مونږ کښې چا چې سبقت یوړلو (یعني مخکښې شولو) هغه خو سبقت یوړلو او څوک چې د مُتَوَسِّط (یعني درمیانه) حال شو هغه هُم نجات والا دے او څوک چې په خپل ځان باندې ظالِم (یعني ګنهګار) دے د هغه هُم بخښنه ده. (تَفسِیرِ دُرِّ مَنثُور ج ۷ ص ۲۵) د شریعت عالِم که په خپل عِلم باندې عمل کوونکے هُم وي (بیا خو هغه په مِثل د) سپوږمۍ دے چې هغه بخپله هُم یخ [یعني سُکون کښې] دے او تا ته هُم رڼرا درکوي، ګني (بے عمله عالِم) شمع ده چې بخپله سوزیږي خو تا ته فائده درکوي. رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

فرمائي: د هغه كس مثال كوم چې خلقو ته د خير (يعني نيكئ) تعليم وركوي او خپل ځان ترينه هير شي د هغه مثال د هغه باتئ (يعني د ډِيوے د باتئ) په شان دے چې خلقو ته رنړا وركوي او ځپله سوَزِي. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج۱ص۷٤ حديث۱۱)

## جاهِل د عالِم نه بهتر ګنړل څنګه دي؟

**سُوال:** جاهِل د عالِم نه بهتر ګنړل څنګه دي؟

**جواب:** كه عِلمِ دِين نه د نفرت په وجه جاهِل د عالِم نه بهتر ګنړي نو دا كفر دے. فُقَهائے كرام رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِم فرمائي: داسې وئيل چې: "د عِلم نه جَهالَت بهتر دے يا د عالِم نه جاهِل ښه وي." كُفر دے. (مَجمَعُ الاَنهُر ج۲ ص ۵۱۱) هله چې د عِلمِ دِين تَوهِين [يعني بے اَدَبي] مقصود وي.

## طالِبِ عِلمِ دِين ته د كوهي چيندخ وئيل

**سُوال:** دِيني طالِبِ عِلم يا عالِمِ دِين ته د حقارت په نظر [يعني د سپك نظر په وجه] **د كوهي چيندخ** وئيل څنګه دي؟

**جواب:** كفر دے.

## "مُوليان څه پوهيږي وئيل" څنګه دي؟

**سُوال:** يو كس په يوه خبره حَقارَت [يعني سپك نظر] سره اُووئيل: "**مُوليان څه پوهيږي!**" د هغه داسې وئيل څنګه دي؟

**جواب:** کـفر دے. **اعلٰی حضرت** اِمامِ اَهلِسُنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيه فرمائي: ”مُولِيان څه پوهيږي!“ وئيل کـفر دے. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج۱٤ص ۲٤٤) ي د عُلَماء تَحقِير [يعني سپکا والے] مقصود وي.

## مُوليانو په دِين باندې عمل کول مشکل کړي دي، وئيل څنګه؟

**سُوال:** دا وئيل څنګه دي چې ”**الله** پاک دِين آسان نازِل کړے وو خو مولیانو مشکل کړو!“

**جواب:** دا د عُلَماء د تَوهِين په وجه **کلِمهٔ کـفر** ده. ځکه چې فُقَهائے کرام رَحْمَةُاللهِ عَلَيهِم فرمائي: اَلْاِسْتِخْفَافُ بِالْاَشْرَافِ وَالْعُلَمَاءِ كُفْرٌ. د اَشرافو (يعني ساداتِ کرامو [يعني سيِّدانو]) او د عُلَماء تَحقِير (کول يعني هغوئي سپک ګڼړل) کُـفر دے. (مَجْمَعُ الْاَنْهر ج۲ ص ٥٠٩)

# مولیانو والا انداز

**سُوال:** د يو ِ ّ عالِم په طرز باندې د يو مُبَلِّغ د قرآن و سُنَّت مطابق کولو والا بيان ته حَقارتاً [يعني د سپک نظر په وجه] ”مولیانو والا انداز“ وئيل څنګه دي؟

**جواب:** کـفر دے. ځکه چې په دې کښې د عُلَمائے حَق **تَوهِين** [يعني بے اَدَبي] ده.

## ”عالِـمان تول ظالِـمان“ د داسې وئيلو شرعي حُکم

**سُوال:** ”عالِـمان تول ظالِـمان“ دا مقُوله څنګه ده؟

**جواب:** مُطلقاً د عُلَمائے حقّه په باره کښې داسې جُمله وئيل **کـفر** دے.

## عالِـمِ دِين ته د سپک نظره مُلّا وئيل

**سُوال:** څوک چې عُلَمائے کرامو ته د تَحقِير [يعني د سپک نظر] په نِيَّت [لکه په اُردُو کښې] ”مُلّا مُلّا“ يا ”مُلّا لوگ“ وائي، د هغه د پاره څه حُکم دے؟

**جواب:** که د عِلمِ دِين په وجه د عُلَمائے کرامو د تَحقِير (يعني سپکا والي) په نِيَّت ئې اُووئيل نو کلِمۀ کـفر ده. چنانچه عَلَّامه علي قاري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: چا چې د (تَوهِين [يعني بے اَدَبئ] په نِيَّت) عالِم ته عُوَيلِم، يا ئې عَلَوِي (يعني د مَولٰی علي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ اولاد) ته عُلَيوِي اُووئيل هغه کـفر اوکړو. (منحُ الرّوض للقارِی ص ٤٧٢) اُردو [يا پښتو] وئيوونکي ”**عُوَيۡلِم**“ او ”**عُلَيۡوِي**“ نه وائي. البته بعضې وخت د [اُردو وئيونکو بعضو] بے باکه خلقو د خُلو نه **مولوا**، **مُلّڑ** وغيره الفاظ اوريدل (سگِ مدينه عُفِیَ عَنۡهُ) ته په ياد راځي [لکه پښتو کښې **مُولاټيرے**، **مُولاګے** وغيره]. بهر حال د عالِـمِ دِين د عِلمِ دِين په سبب تَوهِين [يعني بے اَدَبِي] کول يا د عَلَوِي صاحِبانو يا د ساداتِ کرامو د حَسَب نَسَب د شرافت په وجه د هر قِسم بے ادبئ والا لفظ وئيل کـفر دے.

## ”که مُولا جوړ شوې نو د لوَږې به مړ شې“ داسې وئيل څنګه؟

**سُوال:** ”که دُنيوي تعليم دِ حاصل کړو نو مزے به کوے، که عِلمِ دِين زده کړې او مُولا جوړ شوې نو د لوَږې به مړ شې“ داسې وئيل څنګه دي؟

**جواب:** په دې جُمله کښې د عِلمِ دِين د توهِين طرف ښکاره دے ځکه کفر دے. قائِل [يعني وئيوونکي] باندې **توبه** او **تجدِيدِ ايمان** لازِم دے او که صرف د عِلم او عُلَماء توهِين ئې مقصود وو نو **قطعي کفر** دے قائِل **کافِر** او **مُرتَد** شو او د هغه **نکاح** هُم ماته شوه او **تير نيک اعمال** ئې هُم ضائع شو.

## د عُلَماء د توهِين مُتَعَلِّق 10 خبرے

﴿۱﴾ چې څومره مُوليان دي ټول بدمعاشان دي، داسې وئيل کفر دے هله که د عِلمِ دِين په سبب ئې د عُلَمائے کرامو د تَحقِير [يعني سپکاوالي] په نِيَّت وئيلي وي. (ماخوذاز فتاویٰ اَمجَدِیّه، ج۴، ص۴۵۴) ﴿۲﴾ داسې وئيل "عالِمانو خلقو ملک خراب کړو." کلِمهٔ کفر ده. (ماخوذاَز فتاویٰ رَضَوِیّه، ج۱۴، ص۶۰۵) ﴿۳﴾ داسې وئيل کفر دے چې "مُوليانو دِين ټُکړے ټُکړے کړو" ﴿۴﴾ څوک چې داسې اُووائي: "په عِلمِ دِين به څه اوکړم! په جيب کښې روپۍ پکار دي" نو په وئيوونکي باندې حُکم د **کفر** دے ﴿۵﴾ که چا يو عالِمِ دِين ته اُووئيل: "زه [لا رِ شه] او عِلمِ دِين چرته په يو لوښي کښې سنبال اوساته" دا کُفر دے. (عالمگیری ج۲ ص۲۷۱) ﴿۶﴾ چا چې داسې اُووئيل: "عُلَماء چې څه وائي هغه څوک کولے شي!" دا قَولِ **کفر** دے. ځکه چې د دې نه دا لازِمه راځي چې په شريعت کښې داسې اَحکام دي چې هغه د طاقت نه بهر دي يا عُلَماء په انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلام باندې دروغ وئيلي دي **مَعَاذَالله**! (مِنحُ الرَّوض ص۴۷۱) ﴿۷﴾ دا وئيل: "د ثَرِيد پياله د عِلمِ دِين نه بهتره ده." **کلِمهٔ کفر** ده. (اَيضاً ص۴۷۲) ﴿۸﴾ عالِمِ دِين ... ه د ... ن ... ل **کفر**

دے یعني په دې وجه چې هغه عالِمِ دِین دے. ﴿۹﴾ څوک چې اُووائي: ”فساد کول د عالِم جوړېدلو نه بهتر دي“ په داسې کس باندې حُکم د **کفر** دے. (عالمگیری ج۲ ص۲۷۱) ﴿۱۰﴾ **یاد ساتئ!** صرف د **عُلَمائے اَهلِسُنَّت** تعظیم [یعني ادب] به کیږي. پاتې شو بدمذهبه عُلَماء نو د هغوئي د سوري نه هُم تښتیدل پکار دي ځکه چې د هغوئي تعظیم **حرام**، د هغوئي بیان اوریدل، د هغوئي کتابونه لوستل او د هغوئي صُحبت اختیارول **حرام** او د ایمان د پاره **زهرِ قاتل** دي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیك او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کيدونکې د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره تول شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د تربيَت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدِينه" په ذريعه د مَدَني اِنعاماتو رساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ښائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com